
Welcome Afghans



# کور ته ښه راغلاست - هالیفاکس، نوو سکوشیا




نفوس: **۴۶۵,۷۰۳ خلک (۲۰۲۱ سرشمېرنه)**
(ګڼ شمېر د سویلي او لویدیځې آسیا خلک، عربان او افغانان په کې شامل دي)

## د دې سیمې په اړه

هالیفاکس

- د نوو سکوشیا په ولایت کې ترټولو لوی ښار دی

نوو سکوشیا [1]

- په اتلانتیک کاناډا کې موقعیت لري، چې په کې د نوي برونزویک، پرنس اډوارډ ټاپو، او نوي فاونډلینډ او لیبراډور ولایتونه هم شامل دي
- په دې کې د کاناډا د سمندري ځواکونو ترټولو لویه اډه هم شتون لري

هالیفاکس د خپل تاریخي جذابیت، ټولنیز ژوند، تازه سمندري خوړو، او حیرانوونکو منظرو د درلودلو له امله پیژندل کیږي. ژمي یې سوړ او واورین وي چې، د جنورۍ په میاشت کې یې منځنۍ ورځنۍ ټیټه درجه د سانتي ګراد په کچه -۷ °درجې وي.  اوړي یې ګرم وي، د جولای په میاشت کې یې ورځنۍ منځنۍ لوړه درجه  د سانتي ګراد په کچه ۲۳ °درجې وي.

تاسو کولی شئ له عامه پارکونو او  د چکر له ځایونو څخه  په  اوړي، او د ساتیرۍ له فعالیتونه لکه د واورې له غرنیزې لوبې، د واورې له عادي لوبې او د یخ له لوبې څخه په  ژمي  کې خوند واخلئ.

[1] دلته ورکړل شوي ټول لېنکونه یواځې په انګلیسي ژبه دي.



د هالیفاکس بندر.

## د هالیفاکس خلکو او ځمکې په اړه

د دي ځای خلک په کاناډا کې له اروپایي میشتو او هغو خلکو له رسیدو څخه مخکې دلته اوسیږي چې دغه ځمکه یې د لومړي ځل لپاره کشف کړې وه. هالیفاکس، د نووا سکوشیا د ګنو نورو سیمو په څېر، د میکماق (میګ- ماه) ملیتونو په دودیزه خاوره کې موقعیت لري.



له واورې ډکه د استوګنې یوه کوڅه یا سرک، هالیفاکس.

# ورځنۍ ژوند، دنده او ښوونځي ته تلل

هالیفاکس په دنده کې د پرمختګ، سوداګرۍ کولو، زده کړو او بشپړ ورځني ژوندانه لپاره غوره ځای ګڼل کیږي.

تاسو کولی شئ د هالیفاکس اړوند په دغو صنعتونو یا فابریکو کې دندې پیداکړئ لکه

- بانکداري
- میلمه پالنه
- د بار وړلو بندرونه
- کرنه او زراعت
- کب نیونه
- کان کیندنه
- ځنګلداري

په نوو سکوشیا کې لږ تر لږه رسمي تنخواه په یو ساعت کې ۱۴،۵۰ ډالره ښودل شوې ده.

د کور کرایې پکې توپیر کوي. د یوې کورنۍ لپاره یې د کور اخیستلو منځنۍ قیمت نږدې ۷۵۵،۰۰۰ ډالره دی. د ۲ کوټو لرونکې اپارتمان په میاشت کې نږدې ۱،۵۰۰ ډالره کرایه درلودلی شي.

د نوو سکوشیا له ځایي دولت څخه د کور کرایې کونکو او کرایي ورکونکو د حقوقو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

دلته ګڼ شمیر ښوونځي ، د ورځنی پاملرني خدمات، او له ښوونځي وروسته پروګرامونه په انګلیسي او فرانسوي دواړو ژبو کې شتون لري. په کاناډا کې، زده کوونکي زیاتره له وړکتون (له ۳ یا ۴ کلنی) څخه تر ۱۲م ټولګي (تر ۱۷ یا ۱۸ کلنۍ) پورې ښوونځي ته ځي. له هغې وروسته، دوی کولی شي کالج یا پوهنتون ته ولاړ شي یا هم دنده پیل کړي.

نووا سکوشیا ۱۰ دولتي پوهنتونونه لري، چې په لاندې توګه دي او له هالیفاکس څخه په موټر کې د ۱۰۰ کېلومترو په واټن موقعیت لري:

- د دالوسي پوهنتون (درې ځانګې یې په هالیفاکس او یوه په ترورو کې ده)
- د کینګز کالج پوهنتون
- د سینټ ماري پوهنتون
- د ماونټ سینټ وینسنټ پوهنتون
- د NSCAD پوهنتون
- د سینټ اني پوهنتون

نوو سکوشیا همدارنګه یو پراخ د ټولنې کالج لري چې په دې ولایت کې د هالیفاکس په ګډون، په ۱۷ ټولنو کې ۱۴ ځانګې لري.

تاسو کولی شئ دلته ګڼ شمېر سپورتونه هم وکړئ، لکه

- منډه وهنه
- سکواش
- هاکي
- کرکټ
- ګولي فوټبال (فوټبال)
- باسکیټبال
- کشتۍ ځغلونه
- لامبو وهنه

له YMCA او د هیلیفیکس ښار څخه د تفریحي ادارو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

تاسو کولی شئ په هالیفاکس او شاوخوا سیمو کې د کال په اوږدو کې له ترسره کېدونکو فعالیتونو څخه خوند واخلئ، لکه

- د کلام بندر پر ساحل له شګو د ودانیو د جوړولو سیالي
- د FIN اتلانتیک نړیوال فلم جشن
- د هالیفاکس د اورګډوونکي جشن
- د هالیفاکس د جاز موسیقۍ جشن
- د نیپتون تیاتر

په سیمه کې د ترسره کېدونکو مراسمو په اړه نور معلومات له ډیسکور هالیفاکس اداري او هالیفاکس ښار څخه ترلاسه کړئ.

## دیني او کلتوري اتحادیې

*د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور* لاندې، تاسو کولی شئ په کاناډا کې د خپلې خوښې دین پلی کړئ. تاسو ته د خدماتو چمتو کوونکې اداره کولی شي له تاسو سره په نوو سکوشا کې د سیمه ییزو کلتوري اتحادیو سره په اړیکه نیولو کې مرسته وکړي.

## ځانګړي خواړه

په دې سیمه کې د خوراکي توکو ګڼ شمېر پلورنځي نړیوال خوراکي توکي پلوري. ډېری لوی سوپر مارکیټونه او د مینځني ختیځ اړوند ګڼ شمېر پرچون پلورنځي حلاله غوښه هم پکې پلوري. ستاسو د خدماتو چمتو کوونکي اداره کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو خپلې سیمې ته نږدې پلورنځي پیداکړئ.

## د نویو راغلو اشخاصو لپاره ګټور معلومات

په دې سیمه کې له تاسو سره د مرستې لپاره نورې سرچینې

- د نوو سکوشیا د کډوالو اداره
- د اکاډین او فرانکوفوني خلکو د چارو اداره
- د نوو سکوشیا اسلامي اتحادیه
- په هالیفاکس کې د افغانانو ټولنه
- کاناډا ته ښه راغلاست: د نوي راغلو اشخاصو لپاره د خیرونو لړۍ
- خپلې سیمې ته نږدې د نوي راغلو اشخاصو اړوند نوې خدمتونه پیداکړئ
- په کاناډا کې کډوالي او ځای پر ځای کېدنه
- هالیفاکس ته د نویو راغلو اشخاصو اړوند لارښود